شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (٧١٣) سال شانزدهم شمارهٔ (١٠١) يکشنبه (٣٠) عقرب ١٣٧٢هـ ش (٧)جمادي الثاني ١٤١٤ هـ ق (٢١)نومبر١٩٩٣ م

قيمت: يك روپيه يا پنجاه افغاني

بطروس غالي په تاجکستان کي دملگروملتونورول ته پراختياورکوي

دوشنبه – دلړم ٣٠ مه :

دملگروملتونو عمومي منشي بطروس غالي ويلي چي دي په تاجکستان کي دملگروملتونو رول ته په پراختياورکولو غورکوي .

نوموړي وويل نړيوال سازمان به تاجکستان ته دسياسي اواقتصادي مرستو سربيره بشري کومکونه هم ورکړي داکتربطروس غالي وويل چي دتاجکستان حکومت له ملگروملتونوڅخه غوښتنه کړي چي په دوشنبې کي خپل دفترپرانيزي .

قواي صربي حملات شانرابرمواضع مسلمانان شمال بوسنيا ادامه ميدهند

٢٨ عقرب :

راديوبوسنيا گزارش دادکه نيروهاي صربي حملات شانرا عليه مواضع مسلمانان درشمال بوسنيا ادامه دادند .

اين حملات در شهرک هرلوهوبيشترشديدبوده است . راديوي مذکور به نقل ازرهبران مسلمان دراين منطقه گزارش دادکه قواي مسلمانان دردفاع ازخود شهامت قابل وصفي نشان دادند .

ازسوي ديگر وليم پان دبيرکل اتحاديه غرب اروپا اعلان نمودااتحاديه وي که شامل ده کشورازجامعه اروپا ميباشد آماده است تاگنترگاههائي براي کاروان هاي کمک رساني بشردوستانه بوسنيا آماده سازد .

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم وروررحکمتياردسوډان دنهضت اسلامي له مشرحسن ترابي سره وکتل

چارآسياب – دلړم ٣٠ :

له چارآسياب ولسوالي څخه دشهادت خبريال خبرراکوي چي ورمه ورځ ماسپښين دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم وروررحکمتيار دسوډان دنهضت اسلامي له مشرمحترم حسن ترابي سره دعظمي صدارت په موقت دفترکي وکتل .

خبريال ليکي چي پدي کتنه کي له حسن ترابي سره يوشميرنوردنهضت غړي راغلي وو اودوروررحکمتيار سره ئي دروانوحالاتو په باب تفصيلي خبري وکړي .

خبريال زياتوي چي وروررحکمتياردوي غوښتنوته مثبت ځوابونه وويل اوکتنه دوررو ي په فضاکي پاي ته ورسيده .

مولوي عبدالله ذاکري داتحادعلماي افغانستان مشردبي بي سي سره په مرکه کي :

په تگاب اوسروبي کي دبمباريو فتنه دروس بچيانوپيښه کړي ده

حکمتيار داتحادعلماي افغانستان دفيصلي په باب موافقه وښوده

زه نه جنگ اونه بمباردبندوم ،اوخپلي مقابلي ته به تردووکالوپوري دوام ورکوم

احمدشاه مسعود

دلړم ٢٩ مه :

دافغانستان داتحاد دعلمامشرمولوي صاحب عبدالله ذاکري چي څوورځي مخکي ديوه هيئت په مشري دتگاب – نجراب دجگړودبندولو لپاره کابل ته تللي و اوهلته ئي په چهارآسياب کي دوروررحکمتيار او دکابل دځينوواکدارانو سره دليدنوکتنو وروسته ورمه ورځ بيرته راستون شو. دبي بي سي خبريال له نوموړي سره دده دسفردنتائجو اوهم داتتلافي ځواکونوله خوادسروبي ولسوالي په مرکز باندي دوحشيانه بمباريو په باب مرکه کړي چي دادي دهغي دمرکي (٢)مخ

(٢)مخ

پيشنهادکومك به دولت افغانستان بي مورد است

«ايران تايمز»

روزنامه ايران تايمز که بادولت ايران ارتباط نزديك دارد پيشنهاد دولت افغانستان را مبني براينکه جمهوري اسلامي ايران بايد بادولت افغانستان بخاطر مشکلات روزافزون وسردي زمستان کمك نمايد، رد نموده است .

ايران تايمزمي نويسد : بادرنظرداشت تداوم جنگ درافغانستان چنين خواهش دولت افغانستان ازايران بي مورد ميباشد'

دحزب اسلامي مجاهدينودخواجه بلندپوسته فتح کړه

تگاب – دلړم ٢٩ :

دتگاب ولسوالي څخه دشهادت خبريال خبرراکوي چي دتگاب – نجراب په بي دفاع مسلمانانوداتتلافي ځواکونوپرله پسي بمباري دوام لري اودسيمو خلکوته دهري ورځي په اوږدوکي دراانده مالي اوځاني تاوانونه رسول کيږي .

خبريال ليکي چي دحزب اسلامي جهادي سنگرونه هم دوحشي ائتلافيونو ترسختو بمباريو لاندي راغلي خودوي سره سره هم دحزب اسلامي مومن اوپه خداي مين مجاهدين داتتلافيونومورچي يوپربل پسي فتح کوي .

خبريال زياتوي چي ورمه ورځ توريالبوغازيانو دکوه خواجه بلند ستراتيژيکه پوسته دائتلافيونو له لاسه آزاده کړه او خپل مجاهدين يي پکي ځاي پرځاي کړي .

ديوه بل خبرله مخي دحزب اسلامي مجاهدينويوکيلومترنورهم مخ پروړاندي تللي اوداتتلافيونوقواوي ئي شاته تمبولي دي .

دهنددامنيتي ځواکونو(٢٦)کسه کشميري مبارزين په شهادت ورسول

تهران – دلړم ٣٠ مه :

دهنددامنيتي ځواکونو دنيول شوي کشمير په لويديز دماشاج په سيمه کي ديوي سختي نښتي په ترځ کي ٢٦ کسه کشميري مبارزين په شهادت ورسول .

دهند ددفاع وزارت چي تيره ورځ ئي ديوي بيانيي په خپرولو سره دغه خبراعلان کړدهندي ځواکونوتلفاتوته ئي کومه اشاره ونکړه .

دفرانسي امنيتي قواو ١١٠کسه کردي جدايي غوښتونکي ژوندي ونيول

پاريس – دلړم ٣٠ مه:

دفرانسي پوليسو دکردانودداسي يوي ډلي په مقابل کي عمليات پيل کړي دي چي په ترکيه کي دجدائي غوښتني لپاره مبارزه کوي .

امنيتي مقاماتوته لرترلږه (٥) ښاروونوکي دکردانودکاريگرگوندپه غړوباندي ورغلل اودهغوي ١١٠ کسه ئي ژوندي ونيول چي په هغوي کي په فرانسه کي دکردانودکاريگرگوندمشراودهغه مرستيال هم شامل دي .

فرانسه وائي داعمليات ددي لپاره وشول چي دکردستان دتندروانواحتمالي حملي شنډي کړي.



له مجاهدملت نه دخوارلس کلن انتقام تکل

ديوه ازادي بخښوونکي اوتاريخ سازانقلاب لپاره چي افاقي اوکلياتي دريځ ولري، له تني اوسني نه يي دځينواجزاوورابيلول اوهغه بياپه لساني ،سمتي اونوروبرخومنسجم کول يوه داسي ضربه ده ،چي خامخابه دانقلاب ددښمنانوله خواپه ډيرماهرانه ډول سمباله شوي وي. داسلام اومسلمانانوپه تاريخ کي دايوډيرپخواني اوتکراري مثال دي، چي هيڅکله هم طاغوتي جارحيت دمسلمانانودجهاددجذبي زوروندي راوړي ، خوکه ددغوبرياليوانقلابونوپس منظرژوروڅيړل شي، نودښمن ورته بيادوېمه لارنيولي، اوهغه بيا په بيلابيل لباس کي له مختلفوددسيسوسره رامخ ته شوي، اوپه ډيره کمه بيه يي خپل بدل اخيستي اوشيطاني مرام يي ترلاسه کړي دي همدغه سلوك زموږله انقلاب سره هم وشو. ايتلاف زموږدجهادي تاريخ هغه بداوسپيره نوم دي، چي يادښت يي دهرافغان سترگوته يوه اوږده خونړي منظرکشي وړاندي کوي، اوداسي يوه صحنه چي نن هم گرمه اودځينوجفاکارانو په ژوندبي دورکاوي هيڅ پوښتنه دراولاړيدلونه ده. دايتلاف په جامه کي نن هم کمونيستان دمجاهدملت پرضد ډول، ډول چلوتي کاروي، چي زيات فشاريي پرنظامي اړخ دي، که دجنگ هيڅ جوازنه وي، خوبياهم دکابل په زړه کي دمومن اوبابا جان وسله وال خونکاران په بيلابيل ډول مجاهدين مشتعل کوي، اوجنگ ته يي راکاږي. ځکه دوي پوهيږي، چي ژوندبي په همدغه شان گډوډي کي خوندي کيدلي شي، اوترڅوچي دوي دمجاهدينوترمنځ دنظارمعلوم الحاله لوري ته پوځي ارزښت ونه لري، نوړيه هيڅ بنه راتلي نشي . همدغه بهيربه يي په مقتدرانه ناځيرمخ بيايي. خوپدي وروستيوکي دسروبي دردوونکي پيښي وښودل،چي دايتلاف له خواپه ډيربي شرمانه ډول هماغه دروسانوتکتيك تکرارېږي ، اودهمدغي ايتلاف په متن کي يوه داسي مقتدره کمونيستي نيروشته، چي دخپل نامشروع مربي (روس) نه هم ډيره بي رحمه اوجفاکاره ده . دحيراني ځاي دادي ،چي اوس به رباني اومسعود په تبليغاتي ډول ددغه جنگ دوقوع لپاره دمجاهدملت ترمخ څه بهانه کوي، اوڅه دليل تراشي به کوي . ړومبي خوبه يي داډول الزامات پرحزب اسلامي وراړول ،خواوس چي جنگ دسروبي له کلي ډيرلېري دتگاواونجراب په شاوخواکي دي، نوايتلاف ولي پخپلو الوتکو دسروبي کلي ،جومات اوپه لسگونو بي دفاع مسلمانان شهيدان کړل ؟ دابمباري چي هيڅ پوځي جوازنه لري ، اوپه هيڅ ډول توجيه کيدي نه شي، له دي پرته بله مانانه لري، چي دايتلاف په راس کي کمونيستان اوهمدغه توري منحوسي څيري دي چي له مجاهدملت نه دخوارلس کلن جدوجهد او رواپاڅون انتقام اخلي. هيڅ مجاهد اوجهادي ځواك به ديره متدين اوبيوزله ولس په وړاندي داډول تکلاره خپله نه

عبدالعلي مزاري درگفتگوباخبرنگاربي بي سي:

انتقال شوراى اجرائيهٔ ماهيچ ربطي به مسئلهٔ رابطه بااحزاب ديگرندارد وائتلاف جديدي هم رويکارنيست

ماطرفدارجنگ نيستيم وجنگ راهم راه حل نميدانيم

عبدالعلي مزاري رهبرحزب وحدت اسلامي افغانستان که گفته ميشودبه طرف برهان الدين رباني رئيس جمهوري افغانستان گرايش پيداکرده است ، هرگونه تغييراساسي رادرجناح بنديهاي سياسي حزب خود تکذيب کرده است .

اين مسئله زماني مطرح شدکه احمدشاه مسعود متحد اصلي برهان الدين رباني هليکوپتري رادراختياررهبران شيعه گذاشت تاآنهاغرض گفتگو بااويه کابل بيايند ، اين عمل شايعاتي به وجود آورده مبني براينکه حمايت آغاي مزاري از متحد اصلي اش گلبدين حکمتيارنخست وزيرافغانستان کاسته شده است .

رهبرحزب وحدت اسلامي افغانستان آغاي عبدالعلي مزاري درگفتگوباخبرنگاررادبوبي بي سي درمورد علت انتقال اعضاي شوراي اجرائيه حزب وحدت اسلامي به کابل وشايعات ائتلاف جديد بين حزب وحدت واحمدشاه مسعود چنين گفت: شوراي مرکزي ماقبلاً درباميان بود ويك شوراي تصميم گيري درکابل داشتيم وچون تصميم گيري هاي سراسري مملکت درکابل صورت مي گيرد ووضعيت حساس درکابل حاکم است ازهمين جهت حزب وحدت تصميم گرفت که شوراي مرکزي خودرا هم درکابل متمرکز کند. سه ماه پيش هم تصويب شده بودکه شوراي مرکزي مابه کابل داخل شود ودرباميان يك شوراي تصميم گيري باشد واين موضوع هيچ ربطي به مسئله رابطه بااحزاب ديگرندارد، وائتلاف جديدي هم روي کارنيست . رابطه مابا همه احزاب خوب است ، ماباهيچ کس جنگ نداريم وطرفدارجنگ

ص (٢)

قراراست روزدوشنبه نشست فوق العاده اتحاديه اروپاصورت گيرد

٢٨ عقرب :

وزيرخارجه آلمان وفرانسه به منظورحل معضلات ودشواري هاي مهم يوگوسلاوياي سابق ، به متحدين خويش دراتحاديه اروپا پيشنهادي ارايه نموده اند .

قراراست درنشست فوق العاده اتحاديه اروپا که ممکن روزدوشنبه صورت گيرد پيشنهادات وزيران خارجه آلمان وفرانسه مورد بحث وبررسي قرارگيرد .

زموږملگري طارق احمد دپرله پسي شکنجو دليدوله امله مړشو

آزادشوي پاکستانيان

بي بي سي – دلړم ٢٨ :

دکابل دولت څه وخت وړاندي يوشميرپاکستاني مسافرين په کابل کي دجاسوسي په تورنيولي وو اوله سختو شکنجو اوتعذيبونووروسته ئي اوس آزادکړي دي له دوي سره پاکستان ته له رسيدووروسته دنيوزورځپاڼي مشر رحيم الله يوسفزي مرکه کړي چي دهغي دمرکي بشپړريوټ دبي بي سي راډيوله قوله تاسوقدرمنولوستونکوته دپوره معلوماتولپاره وړاندي کوو.

رحيم الله يوسفزي په خپل ريوټ کي ليکي چي څوموده مخکي دپاکستان دري کسه متعلمين افغانستان ته دليدولپاره تللي ووچي هلته بياهغوي دشوراي نظاردکسانوله لوري نيول شوي وو . اوددولت يوي اداري ته چي (رياست تحقيق وامنيت ملي) په نوم يادېږي سپارل شوي وو .

ددي بنديانوله جملي څخه يوکس طارق احمد په نوم په نوموړي محبس کي دزياتو شکنجودليدوله امله

٣ مخ

په نيول شوي کشميرکي پوليسوه٢کسه ملکي کسان آزادکړل

سرينگر – دلړم ٢٨ مه :

په نيول شوي کشميرکي پوليسو هغه ٣٥ کسه ملکي خلك خوشي کړي دي چي دسرينگرپه يوه جومات کي دوسلوالو مبارزينوسره گير پاتي شوي وو .

دغوخوشي شويو کسانوخبرپالاتوته وويل چي امنيتي افرادودتحقيقاتوپه وخت کي له دوي سره سخت چلندکړي .

دوي داهم ويلي چي د٣٣ مبارزينو له جملي څخه يوهم ندي خوشي شوي نوموړي مبارزين په تيره هفته کي پوليسوته تسليم شول اودحضرت بل دجومات يوي مباشتني محصاري ته ئي خاتمه ورکړه .

له بلي خوادهند دحکومت مخالف بهارات جناتاگوند دهند دحکومت داعمل غندلي چي دمسلمانومبارزينو له خوشي کولو سره ئي موافقه کړي ده خوحکومت پدي باب تراوسه هيڅ ندي ويلي .

بطروس غالي په بوسنياکي دجگړه ماروډلوله مشرانوڅخه غوښتي چي دمرستويه کاروانونويه غرض نه کوي



سرايبو – دلړم ٣٠ مه :

دمهاجرينولپاره دملگروملتونوعالي کميشنره وائي دايه بوسنيا هرزگووينا کي په جگړه کي دلگيادلو څخه غواړي چي په تينگه دااطمينان ورکړي چي دملگروملتونو دمرستو دمواددوکاروانونوسره به غرض نکوي .

نوموړي دبوسنيا دمسلمانانو،کرواتانواو سربانومشرانوته داخبرتيره ورځ ورکړ دبوسنيا دمسلمانانو، کرواتانواوصربانوعالي رتبه مشرانوويلي دي چي پدي کي وعدي نه پلکي عمل په کاردي .

دي همدارازيدي باب بوسنتدوړاندکړچي په جگړه کي

٤ مخ

آخر روز

استاداوشاگرد پردوولارو دیوه هدف په تکل

محمدآصف «صمیم»

په پاکستان کي دبي نظیربوټو په ګټلو خبره په ډیروخلکواوسیاسي ډلوکي دامید ساغریدلي وي اوډیروسیاسي ټولنواواستازیو به ورته دمبارکي احساسات وړاندي کړي وي. خو دپروفیسرربانی دماغ اکبر اوددفاع پخواني وزیر احمدشاه مسعود چي ځان میرمن بي نظیربوټو ته په کوم اندازخوشحاله ښودلي، هغه ربنتیاچي که له یوي خوا بینظیري ته پرخپل سیاسي بري دشکراوویاړسبب دي؛ نوله بلي خوابي دهغه مسعوداصلي بڼه اوځیره هم زموږمسلمان اولس اودنړي اسلامي غورځنګونوته رابرښله کړه، چي تراوسه ورته ښاغلي مسعود دیوه جهادي اتل او دافغانستان داسلامي غورځنګ یواصیل لاروي ښودل شوي اوتبلیغ شوي ؤ اوفکریي کاوه چي که په افغانستان کي دمجاهدینوڅوارلس کلني سربښندني رنګ راوړي، نوهمدادمسعود غوندي شیرپنجشیریه دانقلاب دبري شمله وي؛ خو څوك څه خبرو، چي دچارو پاي اوانجام کله کله داتکلونوپرخلاف راوځي اواخرهغه نیم کاسه هم راڅرګنده شي، چي دغرض ترکاسي لاندي داولسونو دتیرایستولپاره پټه شوي وي .

خبره موداکوله چي ښاغلي مسعود میرمن بي نظیري ته په پاکستان کي پرښپادګرو(!) ځواکونو باندي دهغي پربرلاسي مبارکي اوخوشحالي څرګنده کړه . دهغې ښپادګري پرناکامي خوشحالي چي ترپرونه دمسعود درهبرګوند ورته منسوب و اوښاغلي مسعود ته دجهادي (!) شهرت دورکولو سبب شو .

داچي ښپادګراوښپادګري څه دي ؟ ځکه پري زیات څه نه وایو، چي خبره رانه لنګیږي خوهمدومره ضرور وایوچي داپراسلام باندي دهغه چادتیریخولویوه اصطلاح ده ، چي دنړي پراولسونوباندي دیوه ربښتیني اسلامي نظام په برلاسي ساډوبي کیږي ، کني اسلام اسلام دي اوبس .

دښاغلي مسعود په ځیره برښلوونکي پیغام اواقدام پسي جوخت دهغه دعاګو(ښاغلي رباني) هم داسلام آبادله لاري مصرته په یوه خوشامندګرسفرلاړ، استاد دخپل سیاسي ملاتړیه ترلاسه کولو پسي مصري واکمنوته ددي داډورکولولپاره لاړ، چي ورته ووایي چي که زماپردولت باندي مودښپادګري اودښپادګروعربو دپالني څه شك وي، نوهغه ځکه بیځایه دي، چي ښتیالي خولان په پاکستان کي موږغندلي اوپرناکامي یي زماناژولي وزیرمیرمن بي نظیرته دخوشي اومبارکي پیغام ورلیږلي. که مصري واکمنوته دښاغلي رباني دهمدي ډاډ خبره نه وي ؛ نوله استاد سره دوران ویجاړ افغانستان دمشر په توګه په لاس کي څه دي ،چي دمصري واکمنو په کچکول کي یي واچوي ؟

افغانستان دسعودي عربستان یاخلیج هیوادوغوندي نفتي اواقتصادي زیرمي لري، چي مصرورته اړدي، که منظم عصري پوځ لري، چي مصرته یي داسرائیلوپه خلاف جګړي ته واستوي ؟ اوکه نه یوه پیاوړي نړیواله سیاسي تګلارلري، چي مصرته یي دتتبع لپاره وبښي ؟

ښه چي دابوامکان اوارمغان هم داستاددسفر په بوخچه کي نشته ، نوآبادا اټکل په کني بیځایه وي چي :

استاداودهغه نازولي شاګردپخپلو دغه رازخوشامندودهغو ځواکونو زړونو ته لارپیداکول غواړي ، چي دغه واکمني تري پخپلو سیاسي تګلاروکي الهام اخلي ؟

دزوروله لاري پرملت دحکومت خوبونه

لټون

دځمکي پرمخ له آدمه تردي دمه دبرزورو،جابر، ظالم اومستبدحاکمان تیرشوي اودزور، جبر،تعدااوعامه وژني له لاري یي هم پرخپلوملتونواوهم پرنورومظلوموقامونوحکومتونه کړي دي، ربنتیاخبره داده چي دادنیادارت منګوټي دي، څه وکیږي اوڅه تښیږي، دچادوران تیریږي اوپه چانوي وختونه اودورانونه راځي، که دنړي تاریخ مطالعه کړو نولیدل کیږي چي پردي دنیاچي دچاطاقت ،توان اوخدایي باقي پاتي ده، هغه دیوه الله (ج) ده اوبس .

نورټول ځواکونه، طاقتونه اوځان تراشلي خدایان پناه شوي، تیرشوي اوتیریږي .

حقیقت دادي چي زموږداوسني مؤمن اومجاهداولس یوتاریخي اولس دي، دوي دخپل ژوندانه په شل پنځه ویشت کلونوکي ولیدل چي همدازموږ په خپل ګران هیواداوټاټوبي کي څومره دقدرت په نشه مست لیوني له برمه پریوتل اواوس یي له یوه بدتاریخي نوم اوکردارپرته حتي وارثان هم پاتي نه دي، هغوي دخپل حکومت اوقدرت دتحکیم په خاطردخپل مظلوم اومسلمان ملت وګړي وګړي آزاکړل ، دخلکوکورونه یي وران کړل، بندیان یي کړل، ډله ایزاعدامونه ئي وکړل ژوندي انسانان ئي پرخاورولاندي کړل دخپل حکومت اوغلامانه زمامداري په خاطریي روسي پوځونه دخپل ملت دتابع کولو له پاره راوبلل، داکسا، خاداوواداپه نومونویي دروسي جهنمي سازمان په پیروي دجاسوسي یي رحمه اداري جوړي کړي اوزموږدمظلوم ملت په ځوررولو کي یي هیڅ کمي ونه کړ، دروسي پوځونوچي کله زموږدمظلوم ملت په وژلو، بندیانولو او کورونوویجاړولو خواسړه نه شوه، نویایي دببرك ځیره په نجیب عوض کړه او دپستي اونرمي ژبي له ښوروللوسره یي ورته زموږدمظلوم ملت دوژني اوتابع کوني دنده وسپارله .

هوا داهرڅه زموږله مخي نه تیري شوي خبري دي اودهرظالم اوجابر انجام موږه خپلوسترګولیدلي چي حتي نوم اونښان یي پاتي نه شو، دهغوي په واك کي دهیواد ټولي ششمني موجودي وي ،ټانکونه ، توپونه ، پوځونه، بانکونه اوهرډول واك ځواك ورسره موجودو، سربیره پردي غلام ذهنیته کمونستانودزورله لاري زموږدمومن اولس دتابع کولو له پاره روسي پوځونه چي دویم نړیوال مادي ځواك بلل کیده راوبلل، هغوي هم دیارلس کاله خپلي درندي اوسپکي وسلي زموږدپیځبالي اوصابرملت له کوټلي ایمان سره په ډغرو وروستي خوبالاخره ناکام اونامراده زموږله ننګیالي هیواده په تیښته ولاړل په دي حوصله ماتوونکي موده کي زموږمجاهداولس پنځلس لکه شاه زلمي ځوانان داسلام اوهیواد دآزادي اوخپلواکي په خاطرنذرانه کړل، خودزور اوځواك له لاري یي دچاحکومت ونه مانه .

که پوښتنه وشي چي دادومره ځواکمن زورمندان ولي ونه توانیدل چي پردي بیچاره ملت حکومت وکړي اودځان تابع یي کړي، نوځواب به یي یوازي همدومره وي چي په هغوحکومتونوکي دملت اراده شامله نه وه اوبس .

آبله شپه له بي بي سي راډیوسره په مرکه کي داتحاد العلماء مشرمولاناعبدالله ذاکري چي له جلال آباد نه دسولي دیوهیئت په راس کي کابل ته تللي و وویل چي دحزب اسلامي امیراودهیواد صدراعظم مجاهدورورحکمتیار دسولي په باب دهغوي ټول وړاندیزونه ومنل اوپه تګاب اونجراب کي یي له خپل لوري اوربند ته غاړه کیښوده ، خوپه مقابل کي یي دائتلافي اداري یو متعصب اوپه قدرت مین ناعاقبت اندیشه قوماندان دسولي ددغه هیئت دوړاندیزونوپه ځواب کي ددوه کاله پرله پسي جګړي ګواښ کړي چي دزورله لاري زموږ پرمظلوم اورنځیدلي اولس دحکومت کولو اوتابع کولو جاهلانه خیال تري له ورایه څرګندیږي ، نوموړي چي په څوارلس کلن مقدس جهادکي یي تل له روسانواوروسي ګوډاګیانوسره روغي جوړي له لاري شپي ورځي سباکړي اودمجاهدوځواکونو درابنګیل کولو په خاطریي خپلي شیطاني توطیي پلي کړي دي ، داخبره هیره کړي چي « په زورکلي نه کیږي » اوکه کیداي شواي نوروسانوبه زموږمومن ملت دځان تابع کړي و، زموږمومن ملت دتاریخ په اوږدوکي نه یوازي داچي له هیڅ زورورسره یي روغه جوړه نه ده کړي اودهغوي تابعداري یي نه ده منلي، بلکي دغسي دقدرت لیونیوته یي تل غاښ ماتوونکي ځوابونه ویلي دي، دمسعودله دي ګواښ سره به اوس زموږمؤمن هیوادوال پوهیدلي وي چي دنجیب حکومت له سقوط وروسته زموږپه جنګ ځپلي هیوادکي چادجګړي وګرګرم ساتلي دي؟ اوڅوك دي چي زموږیوموټي متحد هیواد دژبي اوقومیت پراساس ویشل غواړي ؟ څوك دي چي دکمونستو ائتلافیونو په وسیله زموږله مظلوم اولس نه دکمونیزم پرخلاف دڅوارلس کلن مقدس جهاد انتقام اخلي؟ څوك دي چي زموږمؤمن اومجاهد ملت دمقدس جهاد څوارلس کلني شاهکاري یي له خاوروسره خاوري کړي ؟، څوك دي چي دالهي نظام دقیام په خاطر زموږ دمجاهدملت دیونیم میلیون شازلمیوقرباني، شهادتونه اودهغوي سپیڅلي ارمان دکمونیستي ځواکونوسره دائتلاف له امله په سیندلاهوکوي؟ څوك دي چي دمؤمن ملت ضمیرونه په پیسوپیري اودڅوارلس کلنومجاهدنیوپرخلاف یي دژبي او قومیت په اساس یي خپلمنځي جګړوته هڅوي، دمسعودله خبري نه هیوادوالوته جوته شوه، چي له کمونستي مزدوروځواکونو په وسیله دزورله لاري زموږپرمظلوم ملت دحکومت کولو خوبونه څوك ویني ؟

مؤمنوهیوادوالو! دشهادت دورځپاڼي له لاري ستاسي غوږونوته څوڅلي رسول شوي چي حزب اسلامي افغانستان دهمدغوائتلافي ځواکونو له خواپه پرله پسي ډول په همدي خاطرجنګونوته راکښول کیږي،چي زموږ مجاهدهیوادوال په هیواد کي له یوه مؤمن، مجاهد، بادرایته، لرلیدونکي اودمتحدافغانستان غوښتونکي قیادت له ملاتړنه یي برخي کړي اوپه پاي کي دغه ناعاقبت اندیشه متعصب ځواکونه زموږمظلوم هیوادوال دنااميدۍ اونهیلۍ په بهیرکي یوځل بیادکمونستي ځواکونوپه جال کي راګیرکړي اوبالاخره دجهادمقدس ارمانونه خداي (ج) مه کړه له خاورو سره خاوري کړي .

تلاش های مذبوحانه برای بیرون راندن حزب اسلامی ازصحنه

عبدالرؤف طینت

دراین روزهابازهم غیرعب وراکت خاطرهموطنان شریف ومتدین مارامللوروقلوب آنان را آکنده ازیأس ونومیدي ساخته است. مشتي ازعناصرمعلوم الحال که ازخارج کشوردستوراخذ مینمایند،کمربه نابودي داروندارهم میهنان زجرکشیده مازده اند. آنان باپررویي تمام بدون درنظرداشت وقاروجاهت مجاهدین درسطع بین المللي وبابه زیرپاگذاردن میثاق اسلام آبادوعهدنامه جلال آباد ، بدون احترام گذاشتن به ترکیب سیاسي موجود، بي محابا دراین راستاگام برمیدارند

آري درقرون وسطي وازمنه هاي قبل ازآن عده ازمردم به شیوه مروج آنزمان مطابق به عنعنات مروج آن عصردرخدمت اربابان شان قرارمي گرفتندوبه هرسازي که آنان سرمیدادند میرقصیدند .

درعصرحاضرنیزمشتي ازاوباش وارازل باتغیرروش وتاکتیك درحالیکه اهداف نهائي که همانا برآورده شدن امیال شوم باداران شان است درخدمت استعمارقرارمي گیرند وتنهاشیوه خریدانسانهادراین راستادستخوش تحولات ودگرگوني هاي مختلف گردیده است. اگر درآنزمان عده بشیوه خریدوفروش غلامان مطابق به رسوم اعصارعتیقه خریداري مي گردیدند، امروزبعضي هادرخفاودرپس پرده دراین زمینه آستان خدمت رامي بوسند. بناءً تصورآنکه آنان به مصلحت هاي ناچیزمادي پشت پازده ،طوق بندگي واسارت رابدورافگنند، خیالي بیش نمي نماید. آنان به سازدشمن میرقصندودرآسیاب ایشان آب میریزند.بناءً متکي برموازات پالیسي خاوبا ومدوجذرسیاست هاي موضوعه، قدم فرسایي مینمایندودرست مصادف بزماني که وضع کشور کسب بهبود وانتظام مینماید، مطابق بدستورآنان اوضاع امنیتي راخلال واذهان جهانیان را مغشوش نموده ، ذهنیت هارا ازتمرکز به آن موضوع بدورنگهمیدارند .

هموطنان مااطلاع دارندکه نماینده سازمان ملل متحد درطي گردهم آئي اي درشهرکابل که بمناسبت تجلیل ازروزملل متحد برگزارگردیده بوداظهارداشت ومادامیکه اوضاع امنیتي در افغانستان بدین منوال باقیست، کمك هاي سازمان ملل نمیتواند سرازیرشودولي باآنهم علي الرغم موانعي که فراراه تأمین صلح درافغانستان وجوددارد ، وضع امنیتي روبه بهبودنهاده که نویدبخش حالتي است تادرآینده هاثبات نسبي به این کشوربازگردد بناءً میشودکمك هاي این سازمان رابراي اعمارمجددافغانستان سازماندهي نمود » اوگفت که دراین زمینه پروژه هائي راکه بزودي درطي دوسال ثمربخش خواهندگردید، یاداشت وبرشمرده است وبزدودي کشورهاي راکه درتمویل این بودیجه بذل همت خواهندگماشت درجریان قرارخواهدداد تادرشروع سال نوعیسوي این کمك هابراي بپاایستادن اقتصادورشکسته کشوربدسترس قراربگیرد اوگفت درآینده نزدیك براي کشورهاي که درتمویل بودیجه سازمان نقش خواهندداشت اطلاع خواهد داد تاوجوه مورد نظررا راختیارسازمان ملل متحد قراربدهند .

درچنین موقع حساس وباریك بدستورحلقات معلوم الحال درخارج ازکشور ودرزدوبندبامنافع استعمار جمعي ازعناصرفرومایه سعي دربي ثبات کردن اوضاع امنیتي کشورمینمایندوبابراه اندازي کشت وخون وبرادرکشي لبه تیغ انتقام جوئي را بسوي هم میهنان مستمندماتیزترمي سازند .

هم میهنان ما آگاهي دارندکه عناصرآشوبگرشوراي نظاربراي برهم زدن وضع امنیتي دست به تلاش هاي مذبوحانه زده اند تامطابق بدستور باداران بین المللي خویش مردم مانتوانند درسایه امن وآرامش زندگي کرده وازثمره هاي جهاد خویش مستفیدشوند. آنان بابي حرمتي تمام به حاکمیت فعلي منطقه وسیعي ازولسوالي تگاب ومربوطات آنراباراکت وهوپیماموردحملات وحشیانه خویش قرارادادند. مناطقي که درساحه حاکمیت حزب اسلامي قراردارد .

دست زدن به اینگونه تلاش هاي بي ثمرتازگي ندارد. درگذشته شوراي نظارتلاش جدي بخرج داد تاسایرتنظیم هاوبخصوص حزب اسلامي راازصحنه سیاسي بدورنگه داردکه هرباربا شکست افتضاح آمیزي مواجه گردید .

حکومت کابل که منطقه حاکمیت اش ازشمال تاساحه میدان هوایي ، ازشرق به مکروریان سوم وچهارم ازجنوب به بالاحصاروپل آرتل وازغرب به دهمزنگ محدودمي شود گویابراي نفوذ دامنه اختیارات خویش قصداشغال ولسوالي هاي تگاب وسروبي رادرسرمي پروراند .

اینگونه تلاش هابافعالیت هاي بین المللي همراه بودتاحزب اسلامي ازصحنه بدورنگهداشته شود چنانچه رهبران ایالات متحده امریکاوجمهوري فدراتیف روسیه به حکومت کابل مشوره داده بودند تابه هروسیله که میشودپاي حزب ازسیستم کمپلکس سیاسي بدورکشیده شود وازاثیروسلسله مزاحمت درمقابل حکومت جدید واعضاي این حکومت تابجائي کشیدکه افراد ذلیل وفرومایه بابیشرمي تمام جلو اعضاي کابینه جدیدرا که راهي محل تدویرجلسات کابینه بودند گرفتندوعدهٔ ازآنان براي چند روزدرنظارت خانه به سربردند. پس ازتدویرجلسات وپادرمیاني مصلحین این نقیصه براي چندروزتکرارنمي شدولي بعداً دوباره دراین زمینه مزاحمت هاآغازمي یافت چنانچه دراین اواخرعدهٔ ازمتعهدین حزب اسلامي درحکومت جدیدموردآزاروایزاقرارگرفته ازسرنوشت یکتعدادي ازآنهاتاحال اطلاعي دردست نیست. درهرحال دشمن درگذشته تلاش خودرابخرج داده است تاحزب راکناربزندکه الحمدلله هرباربا شرمساري ازصحنه کناررفته است . تلاش مذبوحانه واستعمال سلاح مختلف وهواپیماهاي بمب افگن براي تصرف ولسوالي تگاب درگذشته نیزچندین بارسازماندهي شده وهربارعناصر آشوبگربي شرمانه باشکست ذلت باري مواجه گردیده اند. آنان باپي گیري ودنبال نمودن سیاست «تك حزبي» همانند رژیم هاي فرتوت کمونیستي گذشته سعي وتلاش جدي بخرج مي دهند تابازورسرنیزه وبکاربردسلاح هاي مختلف سایرتنظیم هاراازمشارکت درسیستم سیاسي بازدارند . وسیله یي که در گذشته نه تنها منتج به ثمرهٔ مؤثر ومثمري نگردیدبلکه عکس مسأله واقع گردید، بگذارآناني که بد ستور دشمن میرقصندومانند مهره هاي بي خاصیت بازیچهٔ امیال بیگانگان قرارمي گیرند، آتشي راکه افروخته اند، خویشتن درآن بسوزند.

په تګاب او...

بشپړمتن ستاسولوستونکودمعلوماتو لپاره خپرو.

نوموړي دتګاب اوسروبي دجګړو اودخپل سفردنتائجو په باب دیوي پوښتني په ځواب کي داسي وویل : دلوړ دمیاشتي په ۱۷ مه نیټه دجلال آباد په ښارکي داتحاد علماي افغانستان ، جهادي قوماندانانو ، دننګرهارقوماندانانواودجنوبي ولایتونو قوماندانانو اوځینومشرانولکه مولوي صاحب خالص «حقاني » ،قاضي محمدامین وقاد ، اوځینونوروقومي مشرانو یوه لویه اجتماع جوړه کړه او وروسته له یوي ورځي ئي په دریو مادوکي فیصله وکړه چي لومړي ماده ئي داوه چي هغه درګیري ډلي چي اوس په سروبي اونوروځایونو کي په جګړه لګیادي دابابد فوراً داسلام ،قرآن او سنت مطابق خپل جنګونه سمدلاسه بندکړي ځکه چي داناروااعمل دي داسلام اوشریعت په خلاف عمل دي .

دوهم داچي باید دمسلمانانو لاري بندي نشي خلاصي وساتل شي .

دریمه ماده داوه چي باید دادرګیري ډلي خپل اختلافي مسائل دکتاب الله اوسنت رسول الله ته وسپاري بوهیئت چي هغه ددي دواړوله لوري قبول شي وټاکل شي اوهغه بیا دقرآن اوسنت مطابق ددوي داشکایت واوري اودااختلافي مسائل حل کړي .

ددي موضوع دحل لپاره یوهیئت چي په هغي کي زه هم شامل وم کابل ته لاړو چي په چارآسیاب کي موږحکمتیاراوبه ګلبهارکي موله مسعودسره وکتل* اودراموضوع موهغوته وړاندي کړه .

په مقابل کي حکمتیار زمونږدجلال آباد دفیصلي په باب خپله موافقه وښوده اومونږته ئي مکتوب راواستاوه چي زه له دي سره موافق یم اومسعود وویل چي زه ورسره موافق وم خواوس نه یم ځکه چي مونږیه جلال اباد کي فیصله وکړه ،حکمتیاردوه شرطه ایښي وو یوداچي مسعود به له دفاع وزارت نه لیري کیږي اودوهم داچي زه به صدراعظم وم هغه دواړه ومنل شول ترهغي وروسته حکمتیاربیاتجاوزوکړ اوتګاب ئي ونیوترڅوچي دي تګاب دتاسویه خوله پري نږدي لوبائي زه په زوروري پرینږدم زه نه جنګ بندوم ، نه ښاردبندوم اوزه به خپلي مقابلي ته تردووکالوپوري دوام ورکوم مولوي ذاکري ددي پوښتني په ځواب کي چي جنګ داسلام له نقطي نظره څنګه دي وویل : جنګ په اسلام کي یوبدعمل دي غیرشرعي عمل دي هغه ظالمان چي دوي ورته وایي خولي ئي راوړه هغه ئي سرراوړي، دابیارونه لکه دتګاب اوسروبي یادبل ځاي دافتني هماغه دروس بچیان ، پیښوي اوهغه داوظیفه لري چي پدي ملك کي داسي بي امنیتي اوبدبینی راولی .

مولوي صاحب ذاکري ددي پوښتني په ځواب چي د۱٤۰ کلونو په اوږدوکي خرتګاب دحزب اسلامي سره وو تاسودمسعودنه ددي پوښتنه ونکړه چي تاسوولي تګاب په زورنیسي وویل :داخبره چي ته کوي حقیقت لري باید مونږورته ویلي واي خوچون مونږهیئت ورغلي وو هغه داجواب راته لیکلي وو اوهم ئي شفاهي ویلي وو .

انتقال شوراى...

باهیچ جناح نیستیم .

سوال : شماچندي قبل باآغاي سیاف آتش بس داشتید، گفته میتوانید آیاجانبین آتش بس رارعایت میکنند؟

جواب : آتش بس ازآن وقتیکه برقرارشده تاحالاخوب بوده یعني نقض کم داشت ، گاه گاهي به صورت پراگنده نقض میشد، همه نیروهایکه ازدوطرف (اتحاد وحزب وحدت) ناظراند ،آنهاجلو نقض آتش بس رامیگیرند ، مابه این خوشبین هستیم وامیدوارهستیم که آتش بس ادامه پیداکند ونقض نشود

سوال : فعلاً زدوخورد هاي بین نیروهاي آغاي احمدشاه مسعود وآغاي حکمتیار درتگاب جریان دارد، موقف نیروهاي شما چه است آیاشماتاهنوزدرائتلاف ، باآغاي حکمتیارهستیدبامیخواهیدکه ائتلاف جدیدي داشته باشید ؟

جواب : ماچون طرفدارجنگ نیستیم وجنگ راهم راه حل نمیدانیم مي خواهیم این جنگ خاتمه پیداکند زیرا به نفع دوطرف نیست، ماباهمه احزاب روابط حسنه داریم وطرفدار هیچ کدام ایشان درجنگ نیستیم وسعي میکنیم که این جنگ خاتمه پیداکند

سوال : یك سلسله افواهات پخش شده درشهرکابل که امکان دارد زدخورد هایي شدیددوباره درشهرکابل ازسرگرفته شود، شمادرزمینه چه نظردارید ؟

جواب : مادرمجموع درافغانستان جنگ راراه حل نمیدانیم ،مذاکره وتفاهم راراه حل میدانیم وسعي میکنیم که جنگ درکابل تحقق پیدانکند .

سوال : شماکه روابط خوبتر فعلاً هم باآغاي حکمتیارواحمدشاه مسعود دارید پس چرا درجنگهاي تگاب میانجیگری نمیکنید ؟

جواب : ماالبته این مسئله را مطرح کردیم که میانجیگري بکنیم وحالاهم دنبال همین مسئله هستیم ولي ازینکه قبل ازما ازطرف هیئت دولت کابینه فیصله گردیده بودکه چندتن وزیرتعین گردندتامیانجیگري کنند که آغاي بلاغي ازحزب وحدت جزء آن مي باشد وامیدوارهستیم که این مسئله نتیجه بدهدوجنگ خاتمه پیدابکند .

انتقال شوراي اجرائیهٔ ماهیچ ربطي به مسئلهٔ رابطه بااحزا ب دیگرندارد وائتلاف جدیدی هم روی کارنیست،

دصبر ثمرات اوفضیلت

ژباړه: محمدخلیل

په قرآن، حدیث اودصالحینو په اقوالوکي چي دصبرخومره فضیلت بیان شوي دي مسلمانانوته په کاردي چي پوره غوراوفکروربانديي وکړي.

په قران، کریم له ډېروآیتونو څخه معلومیږي چي صبردانسان دمغفرت له پاره یوه لویه ذریعه ده . په سورة الرعد۲۳ ۲٤ نمبرآیت کي صابرینوته دیوښه انجام زیري ورکول شوي اوالله جل جلاله فرمایلي دي چي دجنت له هري دروازي نه فرښتي پرهغوي داخلیږي اووایي : ترجمه ، سلامتي دي وي پرتاسي دهغه صبرپه وجه چي تاسي پخپل ژوندانه کي وکړ.په سورة الزمرایت نمبرلسم کي الهي ارشاددي . ترجمه : صابرینوته بي شماره اجرورسیږي .په سورة عنکبوت آیت نمبر۵۸ - ۵۹ کي الهي ارشاددي ترجمه : نیك کارکوونکوله پاره څومره ښه اجردي چي صبرېي وکړاوپخپل رب بي توکل وکړ .

حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه فرمائي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل :مؤمن ته چي کوم مصیبت ورسیږي که هغه ستړیاوي یاغم ناروغي وي یا هغه فکرچي انسان پریشانه کړي دهغه په وجه الله پاك دهغه ګناه لري کوي (ترمذي)

له حضرت ابوهریرة رضي الله عنه روایت دي چي محمدصلي الله علیه وسلم وفرمایل چي الله تعالي فرمائي کله چي زه دخپل بنده نه دهغه محبوب شي اخلم اوبیا هغه دثواب پرنیت صبرکوي نوماسره دهغه له پاره بواخېني عوض اوبدل جنت دي (بخاري)

له حضرت ابوسعید خدري (رض) نه روایت دي چي ښځودالله رسول محمدصلي الله علیه وسلم په خدمت کي عرض وکړچي موږله پاره یوه ورځ وټاکي ،هغه صلي الله علیه وسلم هغوي له پاره یوه ورځ وټاکله اوهغوي ته ئي نصیحت وکړاوورته وفرمایل چي دکومي ښځي دري بچیان مړشي نوهغوي دخپلي مور اوددوزخ داورترمنځ حجاب جوړیږي ،پدي خبره یوي ښځي عرض وکړچي که دوه مړشوي وي نوهغه صلي الله علیه وسلم وفرمایل چي دووحکم هم همدادي . (بخاري)

له حضرت ابوموسي اشعري رضي الله عنه روایت دي چي محمدصلي الله علیه وسلم وفرمایل : دکوم بنده خوي چي مړشي نوالله تعالي فرښتوته فرمایي چي تاسي زمادبنده دخوي روح قبض کړي هغه عرض کوي چي هو، الله تعالي فرمائي چي تاسي دهغه دزړه ټکره له هغه نه واخستله هغوي وايي هو، الله تعالي فرمائي چي بیازمابنده څه وویل هغوي عرض کوي چي هغه ستاتعریف وکړ اوانالله وانااليه راجعون ئي وویل ، الله تعالي فرمائي چي زمادغه بنده له پاره په جنت کي کورجوړکړي او نوم ئي بیت الحمدکیږدي .(ترمذي)

له حضرت عبدالله رضي الله عنه روایت دي چي زه دمحمدصلي الله علیه وسلم دناروغي په وخت کي دهغه (ص) خواته ولاړم دهغه پرمبارك بدن مي لاس کیښوددېره زیاته تبه ئي وه ماعرض وکړچي ستاسي ډېره سخته تبه ده اوداپدي وجه ده چي تاسي ته دوه برابره اجردي هغه صلي الله علیه وسلم وفرمایل هوهمداسي ده، کوم مسلمان ته چي څه تکلیف ورسیږي نودهغه ګناه داسي تویږي لکه چي له وني نه پاني تویږي . (بخاري)

له حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت دي چي محمدصلي الله علیه وسلم وفرمایل : چي دمومن سړي او مومني ښځي پرځان، اولاداومال باندي هروخت ازمېښت راځي تردي پوري چي الله تعالي سره په داسي حالت کي مخامخ کیږي چي ټول ګناهونه ئي ختم شوي وي . (ترمذي)

کله چي حضرت اشعث رضي الله عنه ته دخپل څوي دمړیني تکلیف ورسیدنوحضرت علي رضي الله عنه رورته وفرمایل : اي اشعثه ! که ته پخپل څوي غم کوي نوستادمحبت همدغه تقاضي ده اوکه صبروکړي نودخداي جل جلاله له لوري په هرمصیبت کي اجررسیږي ، اي اشعثه که تاصبروکړ نودخداي فیصله شویده تاته اجررسیږي اوکه وویریدلي نوبیا هم دخداي فیصله پخپل ځاي ده ، اي اشعثه ! ستاڅوي خوته خوشحالولي خوهغه ستاله پاره یوامتحان و اوس هغه ته غمګین کړلي نوېدي کي ستاله پاره ثواب اومغفرت دي .

داخبره دي هم واضحه وي چي دصبرکامیابي یواځي اخروي نه وي بلکي دنیوي هم وي د قرآني آیتونواحادیثواوواقعاتوڅخه داخرګندیږي چي صبرکوونکي بالاخره په دي دنیاکي هم کامیابیږي لکه چي دبني اسرائیلو په هکله قرآني ارشاددي . ترجمه : اوچي کله هغوي صبروکړنوموږپه هغوي کي ډېرپیشوایان جوړکړل چي زموږدحکم په مطابق هدایات بي کول .

له حضرت عبدالله بن مسعود (رض) نه روایت دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي پرچاچي فقراوفاقه راشي اوهغه بیا دخلکوپه وړاندي بیان کړي نودهغه فقراوفاقه نه ختمیږي اوپرچاچي فقراوفاقه راشي اوهغه یواځي دالله په وړاندي بیان کړي نونژدي ده چي الله پاك هغه ته ژرياوروسته رزق ورکړي .(ترمذي)

دحضرت علي رضي الله عنه فرمان دي چي صابرخپل کامیابي له لاسه نه ورکوي که څومره وخت ورباندي تیرشي بیاهم یوه نه یوه ورځ کامیابي ترلاسه کوي .

په حقیقت کي صبرهغه ته ویل کیدي شي چي دصدمي اوتکلیف په پیل کي وکړي شي په آخرکي خولوي نه لوي بي صبرهم په صبرکولو مجبوریږي . آخرانسان ترکومه پوري ژړااوفریادکولي شي ترکومه آه وفغان کولي شي بالاخره هغه غلي کیدوته چشوکیږي نوځکه دي ته صبرنه وایي .

دحضرت علي رضي الله عنه ارشاد دي چاچي پخپله صبروکړ هغه آزادانه اوشریفانه صبروکړکه نه نوداحمقوپشان خوورته تسلي ورکولي شي .

دحضرت علي رضي الله عنه فرمان دي چي که پخپله خوښه اومردانګي سره دي صبروکړ نودیره ښه که نه نودختاوروپشان به چوپ شي غم به تادقمچیني پشان پخپله غلي کیدوته مجبورکړي .

دصبرمطلب دانه دي چي انسان په کوم مصیبت اوتکلیف کي راګیرشي له هغه نه دوتلوکوښښ ونکړي بي له شکه له مصیبت اوتکلیف نه دوتلو له پاره کوښښ کول پرځاي اوښه کاردي، که څوك ناروغ شي نوهغه دي خامخا دخپل ناروغي علاج وکړي که مفلسي اومحتاجي ورباندي راشي نودهغه دلري کولو اودرزق ترلاسه کولو له پاره پوره پوره ځلي ځلي بایدوکړي ،که سره دکوښښونو اوهلوځلوداتکلیفونه اودردونه لري نشي یاداسي مصیبت ورباندي راشي چي دهغه علاج له سره نه وي لکه دخپل اولاد یاوروراوخپلوانو مرینه بالاعلاج ناروغي نوبیاپکاردي چي له پوره زغم نه کارواخستي شي . ځان ژبه اوزړه باندي دي قابوراوستي شي ترڅو دلیوتیانوپشان حرکتونه تري صادرنشي اونه شکایتونه بي له خولي نه بهرووځي اونه آه وفغان اوفریادونه اوچت شي، ځکه په جزع رفزغ کولوسره نه څوکوم مصیبت ختمیدي شي اونه څه کامیابي ترلاسه کیداي شي نو انسان ته پکارده له صبرڅخه کارواخلي نه داچي په بي صبري سره دنیوي اواخروي اجر له لاسه ورکړي .

اهداف امریکا در قبال جهان اسلام

ترجمه :منیب

امپریالیزم یك روش جهاني است وهدف از ان اینست که کشورهاي نیرومند وپرقدرت حکمروایي شانرا براي همېش بالاي کشورهاي رویه انکشاف وناتوان زنده نګهمیدارند.

زماني امپریالیزم، انګلستان درکشور کشایي وغصب دول ضعیف درصف اول قرارګرفته ،باداري سرتاسري جهان پهناور را درذهن مي پروراتید ، امارفته رفته ستاره بخت طالعش افول نمود وامروز قدرتش درمحدوده لندن خلاصه می شود زمانیکه کلمه، امپریالیزم ازکنارانګلستان حذف ګردید روس وامریکابه خاطر اشغال جهان با هم مصاف داده یکي بردیګري سبقت جستند . خاصتاً درجنګ جهاني دوم امریکا بااستعمال بمب اتم جاپان رابه ویرانه مبدل کرد و بلاك غربي زرزنګراني امریکا قرارګرفت ، بلاك شرقي سالهاي سال تحت قیادت روس ها (اتحاد شوروي درنتیجه کشورکشایي روسها به میان آمد) باقي ماند آخر الامر شیرازه آن از هم پاشید ، نامش ازنقشه ګیتي حذف شد ورقیب او امریکا یکه تاز میدان ګردید توأم بااضمحلال اتحاد شوروي اسبق براي امریکا مشکلات عجیبي پیش آمد ممالك هم پیمان اودرین فکر شدند که درصورت نبودن بلاك مخالف دربرابر غرب به پرداخت اینقدربودجه وافروتولید سلاح ذروي وخطرناك دیګر چه ضرورتي باقي مانده است.

ولي امریکا عجالتاً بهانه دیګري را عنوان نموده اسلام را یګانه دشمن جهان غرب قلمداد کرده با این کارش اول احساسات وسؤتفاهمات ممالك هم پیمانش راختثي نمود وثانیاً توجه آنها را بسوي جهان اسلام متحیث رقیب ودشمن غرب جلب کرد.

امریکا جهت حصول اهدافش باکمال زرنګي وهوشیاري درمرکز روحاني مسلمانان نفوذ نموده پایګاه هاي نظامي اش رادرکشورهاي عربي بي که اسلام از آنجا نشأت کرده بود جابجا وتمام معاملات سیاسي ودادوستد اقتصادي آنها رادر کنترول واداره، خود درآورد . این یکي از خاصیت هاي دول امپریالستي است که معاملات سیاسي واقتصادي مناطق مفتوح وتحت کنترول رابه رضا ورغبت خود استعمال نماید، بعداز آنکه امریکا ممالك عربي راتحت تاثیرخود قرار داد درصدد آن شد تاوابستګي مردمان آنکشور ها را اندك اندك بادین بي آلایش اسلام منقطع سازد . اګر چه ممالك عربي درراه دوستي با امریکا خود را مخلصانه قربان میکنند ولي امریکا به آنها به نظرشك وتردید مي نګرد .

زیرا میداند که زدودن جذبات ایمان که دراعماق قلوب مسلمانان نقش بسته کارمشکلي است.

امریکاتجربه، تجزیه ترکیه راخوب میداند ، زیرا وي چنان مي اندیشید ، که ګویا باقدرت نمایي غرب درترکیه دیګر نام ونشاني ازاسلام باقي نخواهد ماند ولي برخلاف توقع آنها امروز مردم ترکیه بار دیګر پروانه وار بسوي اسلام پر مي ګشایند به همین ترتیب مردم بوسنیا درقلب اروپا که صرف بنام مسلمان بودند ،امروز به خاطر اسلام درآنجا یادي ازداستانهاي حنین وکربلا زنده مي شود ،هم چنان..

این امر ذاتاً خطر جدي یي متوجه اهداف مغرضانه امریکا محسوب مي ګردد.

اګر جریانات جاري درکشورهاي سعودي وایرانرادرنظربګیریم مي بینیم باوجودیکه قیادت فعلي ایران نسبت به نخستین روزهاي پیروزي انقلاب اسلامي رویه وروش معتدل تري پیش ګرفته چنانچه این سیاست وي ازجانب جمعي از مردمان آنکشور مورد انتقاد نیز قرار ګرفت ، ولي امریکابدون درنظرداشت این پالیسي اصرارمي دارد که جمهوري اسلامي ایران نه تنها یك کشوردهشت ګرداست ،بلکه تروریست ها ودهشت ګردهاي جهان راسرپرستي وسازماندهي نیزمي نماید. ،چرا !

به خاطریکه درجمهوري اسلامي ایران قوانین وضع شده پس از پیروزي انقلاب اسلامي برمبناي اسلام تطبیق مي ګردد.

دولت عربستان مثال دیګري است که وي دست دوستي رابسوي امریکا بطورمخلصانه دراز نموده ازآن هیچ عملي که پالیسي امریکا رامتضرر ویاتهدید نماید سرنزده است، ولي ادارات شایعه پراګني وتبلیغاتي امریکا درجهان خارج علیه عربستان بخاطري مصروف پروپاګند وتبلیغ است که حدود اسلامي در عربستان نافذ مي ګردد و تنفیذ همین قوانین اسلامي به زعم امریکا خلاف حقوق انساني وبشري است. اګر قاتل بنابه حکم شرع قصاص میشود یازاني بي سنګسارمي ګردد ویادزدي دستش بریده مي شود ، به نظر امریکا عملي خلاف حقوق انساني است ویا سیاست جامعه، امریکایي مغایرت دارد ،پس باید این عمل عربستان ازسوي امریکا تائید نګردد.

حال تحت نام اعاده وحفاظت حقوق انساني درعربستان چنان فشار هاي وجود دارد که باید تطبیق حدود برمبناي شریعت اسلام درآنکشورقطع شود.

اګرنظام فعلي عربستان به این خواسته، امریکا لبیك بګوید ،یقیناً این نظام سالهاي متمادي باید درآنکشور حکمروایي نماید. اګر حکمرانان عربستان سعودي چون مصر یك سوم حصه نفوس کشور شانرا به خاطر حفظ قدرت شان روانه سلول هاي زندان نموده آنها را از همه حقوق واجبي شان محروم سازند ،ازسوي امریکا نه تنها هیچ اعتراض وانتقادي صورت نمي ګیرد ،بلکه به حقوق انساني هم صدمه وارد نمیشود، ولي قطع دست یك دزد به اساس دستور خدا (ج) خلاف ورزي ازحقوق انساني است.

مثال دیګري کشور شام است .شام عساکرش رابه حمایت امریکا درجنګ خلیج اعزام نموده حقوق باداري وي را اداکرد ، ازوضع چنان معلوم میشد که امریکا شام رابه پاس خدمتي که انجام داده شاید مورد عفو قرار داده باشد. ولي برخلاف ،فشارهاي امریکا بالاي شام هم چنان به شدت ادامه دارد وبه اصطلاح امریکا، وي یك کشور دهشت ګرد وحامي تروریستان است.

اګر سري به پاکستان بزنیم مي بینیم که طي جنګ تحمیلي چهارده ساله، روسها درافغانستان امریکا باپاکستان از نهایت دوستي پیش آمد مي نمود ،ولي زمانیکه پوزه، طاغوتي اتحاد شوروي سابق با همتاي جهاني امریکا به یاري خدا (ج)وفداکاري هاي مجاهدان افغان به خاك مالیده شد تمام عهد وپیمان هاي دوستي بین امریکا وپاکستان ازبین رفته نه تنها پاکستان را همه روزه به نام دهشت ګرد تهدید مي نماید ،بلکه بافشار هاي متنوعي تعدادي از اعراب مسلماني را که مدت هاي زیادي رادرپاکستان سپري نموده پاکستان را خانه دومي شان مي پنداشتند خارج ساخت ولي همین عرب ها روزیکه یکجا بامجاهدان افغان علیه اتحاد شوروي مي جنګیدند براي امریکا نهایت محبوب بودند.

پاکستان هم عساکرش راتحت قیادت امریکا درجنګ خلیج اعزام داشت، وحال هم تعدادي ازعساکر اینکشوردر صومالیه ،کمبودیا مناطق دیګري مصروف ماموریت اند اګر چه امریکا فعلاً لطف وکرم نموده نام پاکستان رادرلست کشورهاي دهشت ګرد ضمیمه ساخته است ولي این سخن قابل قبول وحتمي به نظرنمي رسد.

بهرحال مسلمانان باید در هر حالت به کتاب پرفیض وپربرکتي، که متضمن فلاح وبهبودي جامعه، بشري است چنګ زنند ، تا درازکردن دست دوستي بسوي کفار.

خداوند (ج) درمورد مطالب فوق نګاشته شده مي فرماید (یهودونصاري تازماني ازشماراضي نخواهند شد ،تا شما عقیده وکیش آنها را پیروي واطاعت نکنید)

آیا همین ګفته، قرآن هدف اولي یهود ونصارانیست ! اګرمسلمانان هزارمراتب دست دوستي به سوي کفار دراز نمایند ، باید بدانندکه آنها دشمنان عقیده شان اند. میبینیم که کشورهاي پاکستان ،عربستان ،شام وترکیه ... امریکا وحواریونش را دوست مي پندارند ولي نتیجه همان است که بود.

اي کاش ! مسلمانان به همین یك آیه قرآن عظیم الشان (یهود ونصارا تازماني ازشماراضي نخواهندشد تاشماازعقیده ودین آنها پیروي واطاعت نکنید) غوروفکرنموده به آن عمل مي نمودند ،تااز همه مصیبت هاي وارده نجات یافته ،روابط دوستي نام نهاد با کفار منقطع مي شد وحق وباطل از هم تفکیك وتمیز مي ګردید.

الهي ! قلوب مؤمنین رابانورقرآن منور نما.

دنوم بدلول

بادام ګل دخانصاحب زوي دلوګرولایت دپل علم ولسوالي اوفعلاً ددعوت اوجهاد دپوهنتون دساینس دپوهنځي ددریم صنف محصل خپل نوم په عبدالرحیم بدل کړي . له دوستانوڅخه هیله کیږي چي نوموړي وروردعبدالرحیم په نامه وپیژني .

داسلام روغتیایي نظام

ژباړه: عبدالودود"محسن"

اسلام دحق اودفطرت دین دي چي له هرحیثه یوجامع اودژوندپوره نظام دي دانسان دهوسایني اوکامیابي لاریواځې هغه کیداي شي چي دکائناتوپیداکوونکي اومالك خپله ښودلي ده چي دهغې نوم اسلام دي.

داسلام ښووني دژونددهري برخي لپاره دي ، الله (ج) دانسانانو دپیدایښت سره سم دخپلوکتابونواورسولانوپه واسطه هغوي ته لارښوونه کړي .

له شخصي اوګړنیزوچارو څخه نیولي ترملي اوبین المللي معاملاتوپوري دژونداسي هیڅ یواړخ نشته چي الله (ج) موږ ته لارښوونه نه وي کړي .

صحت هم دژوندیوه برخه ده اوپدي باب ئي هم موږته دنیوي پوره لارښوونه کړي اوله پیل څخه چي انبیاء کراموعلیهم السلام دانسان ددنیااو آخرت دکامیابي دهغه دعبادت ،اخلاق ، روح اوباطن دپاکي لپاره کوم احکام راوړي په هغې کي دروغتیادساتني اودبدن دپالني لپاره احکام هم موندل کیږي حضرت ادریس علیه السلام دحکمت دمختلفو ډولونو (چي طب په کي هم داخل دي) لومړني معلم ګڼل کیږي چي له هغه څخه دحکمیانو دشاګردي سلسله شروع کیږي چي پدي توګه هغه ته هرمس الهرامئه ویل کیږي . دحضرت موسي علیه السلام څخه هم په تورات کي دصحت اوبدن دپاکي په هکله قوانین رانقل شوي دي . دحضرت داودعلیه السلام لارښوونه ده چي « جوړوالي اوصحت دتندرستوخلکوپه سرتاج دي چي ناروغوخلکوته په نظرراځي » .

حضرت سلیمان علیه السلام هم دنباتاتو اثرات اودهغوي دشفاورکولو خواص بیان کړي دي . حضرت عیسي علیه السلام په داسي زمانه کي مبعوث شوي وو چي په یونان،روم اودهغه په شاوخواکي دحکمت اودهغه مختلفو ډولونودګواني دوران و چي په دي توګه دهغه (ع) دزیاتره معجزو څرنګوالي طبي و دمثال په توګه درندوجوړول دپیس دمریضانو رغول اوهمداراز دمړو ژوندي کول دهغه له معجزوڅخه دي .

دټولو انبیاووعلیهم السلام په آخرکي زموږپیغمبرصلي الله علیه وسلم دنیاته تشریف راوړ اودالله (ج) دین پوره اوکامل شودآنحضرت (ص) شریعت نړیوال اودائمي شریعت دي چي په دي توګه داسلام روغتیائي نظام هم په پوره ډول سره په هغه کي موجوددي . قرآن عظیم الشان ترهرڅه دمخه دابنیادي ټکي بیان کړي چي دمرګ اوژوند په څېرجوړتیااوناروغي هم دانسان له توان اواختیارڅخه پورته خبره ده بلکي دهغې واګي هم له الله (ج) سره دي له ناروغي څخه جوړیدل دانسان ترتدبیرپوري موقوف ندي علاج پرهیزاوداسي نورهغه وسائل دي چي کامیابېدي هم شي اوناکامیدي هم، دواګټوره تمامیدي شي اومضره هم ، مطلق جوړوونکي یواځې الله (ج) دي « اوکله چي مریض شم نوهغه شفاراکوي »(اشعرأ سورة ـ ۸۰ آیة)

داهغه ټکي دي چي داسلام روغتیائي نظام پري دنوروصحي نظامونوپه نسبت امتیازپیداکوي په قرآن کریم کي ډېرداسي احکام شته چي که څه هم په مستقیم ډول سره طبي احکام اولارښودني ندي خوبالواسطه طبي هدایات ګڼل کیږي .

دطب مقصدوصحت مینځته راتلل اودناروغي ختمیدل دي . قرآن مجید دلارښودني هغه کتاب دي چي اصلاً خودانسان ددنیوي اواخروي ژونددکامیابي اواصلاح لپاره نازل شویدي . خونتیجتاً اوپه بالواسطي توګه دهغه احکام دطب مقصدهم پوره کوي پدي ماناچي دروغتیادساتني اودهغې ددوام اودمرض دختمیدولپاره ګټوراومؤثرتامیږي .

دقرآن کریم ځیني آیتونه پدي باب دڅرنګوالي په لحاظ سره انشا (امرونهي) نه بلکي دخبرپه توګه راغلي دي چي یوشمیرطبي اوصحي حقیقتونه پکي پراته دي .

الف : دروغتیالپاره دتاوان رسوونکوڅیزونواوکارونوڅخه ئي دځان ژغورني اوځان ساتني لارښودنه کړیده دمثال په توګه :

۱- په خوراك اوڅښاك کي له اسراف نه دځان ساتني حکم شوي :(اوخوري اوڅښئ اوله حدنه تېري مه کوئ ، خداي (ج) له حدنه تیري کوونکي نه خوښوي) (الاعراف ۳۱ آیة) په اسراف کي کمیت اوکیفیت دواړه شامل دي دخوړومقداردي زیات نه وي اوهغه دي څوڅو رنګه هم نه وي چي پدي ډول سره ګویا دکم اوساده خوراك اومیانه روي تعلیم ورکړل شوي دي .

۲- مرداره، وینه، اودخنزیرغوښه حرام ګرزول شوي ده چي داټول څیزونه روغتیاته تاوان رسوي . همدارازپه قرآن کریم کي څوځایه دهغوخوراکونویادونه شویده چي دروغتیادپایښت اویادناروغي دلیري کولو لپاره ګټوردي.دمثال په توګه :

۱- ماهي : « الله هغه ذات دي چي سمندرئي رام کړي ترڅوتاسي له هغه نه تروتازه غوښي وخورئ »(النحل -۱٤ آیه)

۲- شیدي : « اوستاسولپاره په څارویوکي یودرس پروت دي موږدهغوی له ځیټوڅخه دخوشیواوویني له مینځ نه خالص شیدي په تاسوڅښوو - چي دڅښونکولپاره ډېري خوند وري دي » (النحل ٦٦ آیه)

۳- شهد: « ددغي مچي دخیټي نه په بیلابیلورنګونویوشربت راوځي چي په هغه کي دخلکولپاره شفاده » (النحل - ٦۹ آیه)

٤- میوه : « اوموږبه هغوي ته هرړازمیوه اوغوښه څه چي دهغوي زړه غواړي په ښه شان ووکړو» (الطور ۲۲ -آیه)

ب : دهغوچاروحکم شوي چي صحت ته ګټه رسوي : دمثال په توګه :

۱- دبدن پاکي : « خپلي جامي پاکي کړه اوله چټلي نه په څنګ اوسه » (المدثر- ٤-٥ آیه)

په پنځه وخته لمانځه کي دبدن دیکاره اندامونوصفایي اوبیابیا وینځلولپاره اودس کول لازم ګرزول شویدي. دغاښونودصفایي لپاره مسواك وهل سنت دي اودټول بدن دپاکي تأکیدشوي چي کم ترکمه په هفته کي یوځل (دجمعي په ورځ) بایدسړي غسل وکړي.

٤ مخ

زموږملګري ...

مړشوي چي دهغه مړي ئي تیره شپه دسړك له لاري تورخم ته رارسولي دي اوهغه دوه تورکسان چي دده سره ملګري وو دسوات اوسیدونکي هریو عقیل احمداو ضیاؤ الله خان وو هغوي هم له مړي سره یوځاي راغوشي شول .

ددغه دووتنوحالت ډېرخراب وو صحي وضعه ئي خرابه وه اوجامي ئي تقریباً ټوټي ټوټي شوي دي .اوحتي دوي خبري هم نشواي کولاي

رحیم الله یوسفزي په خپل رپوټ کي لیکي چي :

دغه خوشي شوي کسان وائي چي په بندیخانه کي زموږسره زیات ظلم شوي اوزیاته کړي ئي ده چي په دغه بندیخانې کي زموږسره دیارلس پاکستانیان نور بندیان ووچي دهغوي نومونه اوداوسیدوځایونه ئي پدي ډول دي اته کسه دصوبه سرحددي یوکراچي اونورئي دپنجاب دي .

دیونوم اعتبارمحمددي بل دهغې ملګري نورحکیم چي دصوبه سرحددرګي اوسیدونکي دي اوتقریباً ددوومیاشتوراهیسي هلته بندیان دي .

دمهمندوایجنسي څخه حاجي نادرخان اوشهزاد دشبقدر ډېري څخه سیدپاچا اوبخت پاچا دپیښوربنارڅخه جاوید اودخوازه خیلواوسیدونکي فضل محمد ،دکراچي څخه د رویتر دګجرانواله څخه محمدرشید، تصور ، دلاهورڅخه محمدعمران چي دنهومیاشتوراهیسي هلته بندیان دي عقیل احمد اوضیاوالله خان اوس راغلي اوپه سوات کي اوسیږي وایي چي په کابل کي دبندیانواوپه خاصه توګه دپاکستانیانو سره زیات ظلم کیږي او ورباندي تورلګول شوي چي دوي په کابل کي پاکستان ته جاسوسي کوي دوي وایي دمحبس مشر(مسئول) څارنوال مشتاق هروخت پاکستان اوپاکستانیانوته بدرد اولهولعب وائي اوزموږملګري طارق احمد ځکه مړشوچي هغه به ئي هروخت وهلواوشکنجه کاوه به ئي .

تعزیرات اقتصادي ملل متحد علیه عراق تمدیدگردید

نیویارك – ۲۸ عقرب :
شوراي امنیت ملل متحد تعزیرات اقتصادي راکه ازسال ۱۹۹۰ به اینطرف درمقابل عراق میباشد تمدیدکرد .
دلیلي که بخاطرتمدید تعزیرات اقتصادي علیه عراق آورده شده این میباشدکه بغداد تاهنوز شرایط ملل متحد رابجانکرده است ملل متحد قبل ازهمه خواستارنابودي کامل وتمامي سلاح هاي مهلك عراق مي باشد .

جنرال فرح عدید په یوه عام محضرکي ولیدل شو

موگادیشو– دلړم ۳۰ مه :
دسومالیادجگړه مارودلویومشرمحمد فرح عدیدوروسته له هغه چي ملگروملتونو دهغه دنیول کیدو امرفسخ کړیه یوه عام محضرکي لیدل شوي دي .
جنرال عدیدتیره ورځ په موگادیشوکي هغو په زرهاووطرفدارانوته چي ده ته ئي دخوښي چیغي وهلي وویل چي دي دملگروملتونو ددغي فیصلي هرکلي کوي .
دملگروملتودامنیت شورا دتیري سه شنبي په ورځ رسماً دجنرال عدید دنیول کیدلو امرچي دملگروملتونودافرادودوژلوکیدلودمسئول په توګه نیول شوي وو فسخ کړ .

نمایندگان صنایع آلمان وچین قرارداد اقتصادي وتجاري را امضاکردند

پیکنگ – ۲۸ عقرب :
نمایندگان صنایع آلمان وتصدیهاي چین درحضورهلمت کول صدراعظم آلمان وحاکمان چین قرارداد هاي اقتصادي وتجاري رابه ارزش بیش ازسه هزارملیون مارك آلماني امضاء نمودند.

دنړي مشرانودامریکا دازادتجارت دموافقي دلاسلیکولوهرکلي کړي

واشنگټن – دلړم ۳۰ مه :
دنړي مشرانودمتحده ایالاتوپه ولسي جرگه کي دشمالي امریکادآزادتجارت دموافقي دمنظوریدلومثبت هرکلي کړي دي .
دمکسیکو جمهوررئیس وائي دمتحده ایالاتوولسي جرگي ددغي موافقي په منظوریدلوسره حمایوي اقتصادردکړ.
دکاناډادتجارت وزیروائي ددي موافقي دمنظوریدلوڅخه داخرگندیږي چي له متحده ایالاتوسره دبهرني نړي غم زیات دي اروپائي ټولني هم ددي موافقي منظوریدل ستایلي .

امریکایك اداره یکصدهزارنفري پولیس تاسیس میکند

۲۸ عقرب :
انتظارمیرود که مجلس سناي ایالات متحده امریکاامروزبراي ترتیب یك لایحه جامع ضدجرایم که شامل تشکیل اداره پولیس جدیدمیشودراي بدهد این لایحه همچنان استیناف طلبي زندانیاني راکه به اعدام مراجه میباشند تعدیل خواهدساخت .
این لایحه جهت تصویب به مجلس مشترك سناونمایندگان ارائه خواهد شد .

په بنگلدیش کي پولیسو ۵ کسه ووژل

ډاکه – دلړم ۳۰ مه :
دبنگله دیش په جنوب کي چي پولیسودمحافظینو درقیبودلوترمنځ دنښتودقرارولو په منظور ډزي وکړي لږترلږه (۵) کسه ووژل شول .
دپنجشنبي دورځي په دغه پیښه کي چي رامنځ ته شوه څه دپاسه لس کسه نوریه کي ټپیان شول . محلي مقامات وایي چي پولیسوددغو نښتودقرارولو لپاره خپل ټول قدرت تمام کړ اوبالاخره دزوته مجبورشول . مگردمحصلینویوي دلي پرپولیسو باندي ددغولمسونوبرېد واچوله اوپدي برخه کي ئي دتحقیقاتو غوښتنه وکړه . تقریباً سل کاله کیږي چي دبنگلدیش په جنوب کي قبیلوي ناقراري رواني دي .

امریکا تحریم اقتصادي راعلیه کیوبا حفظ میکند

۲۸ عقرب :
ایالات متحده امریکامیگوید تحریم اقتصادي را علیه کیوبا حفظ خواهدکرد ، وآن کشوررا مجبور به پذیرش دیموکراسي مي نماید .

خبرتیا

داسلامي فرهنگي مرکزدننگرهارڅانگي لخوا داسلامي امت دستونزوسره دپیوستون دري ورځني پروگرام په لاندي توگه لمانځل کیږي .
۱– دوشنبه ۱ر۹ر۷۲هـ ش د۲۲ ر۱۱ر۹۳ م افتتاحي پروگرام دماسپښین ۱:۳۰ بجه .
۲– سه شنبه دوهمه ورځ داسلامي امت دستونزو په اړه ټوله ورځ فلمي اوتصویري نمایش
۳– چارشنبه دریمه ورځ اختتامي پروگرام دماسپښین ۱:۳۰ بجه مینه وال دي خبروي .

شهادت

دلبنان مسلمانومبارزینوداسرائیلو خاوره تردرندو بریدونولاندي ونیوه

بیروت – دلړم ۳۰ مه :
دسوریي دجمهوررئیس مرستیال عبدالحلیم خدام اعلان وکړترڅوچي اسرائلیان دلبنان جنوبي سیمي پري نږدي نوپردوي باندي به پدي سیموکي پراخ بریدونه وشي . ۸ کاله په خوااسرائیلیانو داسرائیلودشمالي سیمودامنیت دتأمینولوپه پلمه دلبنان سرحدي سیمه ونیوله .
دتیري سه شنبي په ورځ دلبنان مسلمانومبارزینو داسرائیلوپه مورچوباندي بریدونه وکړل اواسرائیلوخاوره ئي په درندوگولیو باندي وویشتله .

بیست ویك هزارصاحب منصب شرکت هوایي امریکااعتصاب نموده اند

۲۸عقرب :
اعتصاب زمامداران شرکت هوایي امریکا«ایرلیند» وارد دومین روزخودمیشود .
بیست ویك هزارصاحب منصب شرکت هوایي امریکااعتصاب شرکت کرده ومیگویندااعتصاب یازده روزدوام خواهدکرد .
مسایل عمده ایکه دراعتصاب مطرح شده تقسیم اوقات کارآنهاوافزایش معاشات وبیمه هاي طبي میباشد .

درنایجریافعالیت حزب دیموکرات وتمام اتحادیه هاممنوع اعلان شد

۲۸ عقرب :
جنرال « ثاني آبه چه » یك روزبس ازآنکه نظامیان درنایجریاقدرت راتصرف نمودند، حزب دیموکرات آن کشورراممنوع قرارداد ، وتمام احزاب واتحادیه هاي راکه طي انتخابات دیموکراتیك بقدرت رسیده بودمنحل اعلان نمود.
گزارش مي افزاید: دربعضي ازشهرهاي نایجریااعتصابات وتظاهرات دوام دارد .

ترکیي له ایران اوسوریي څخه وغوښتل چي دتروریزم په مقابله کي ورسره همکاري وکړي

انقره – دلړم ۳۰ :
دتیري چهارشنبي په ورځ دترکیي دبهرنیوچارو وزیردترکیي دپارلمان دپلان په کمیسیون کي دخپلي وینا په ترڅ کي اعلان وکړ چي انقره به هردول تروریستي عمل چي په مستقیم یاغیرمستقیم ډول دگاوندیو دولتونوله خوادترکیي په ضدکیږي بي ځوابه پري نږدي.
ده سوریي اوایران ته چي دهغویه خاوره کي ئي دکردي کارگرگوندادي پرتي دي ددي بلنه ورکړه چي دتروریزم پرضدپه مبارزه کي له ترکیي سره همکاري وکړي .

شوراي امنیت قیام سربازان صلح رامدت شش ماه دیگردر سومالیا تمدیدکرد

۲۸ عقرب :
شوراي امنیت مدت بقاي نیروهاي پاسدار صلح بین المللي را درسومالیا براي مدت شش ماه دیگر که ازتاریخ سي ویکم ماه مي آینده آغازمیگرددتمدیدنمود .
شوراي امنیت طرف هاي سومالي را آگاه ساخت که موفقیت ملل متحد درسومالیا مرهون همکاري فعالانه شان وبدست آمدن پیشرفت قابل ملاحظه درراه حل سیاسي بحران سومالي میباشد .

په لبنان کي وسلوالوکسانود یاسرعرفات یولوړرتبه مامورووواژه

بیروت – دلړم ۳۰ مه :
وسلوالوکسانوپه لبنان کي دفلسطین دخپلواکي دموسسي دمشریاسرعرفات یولوړرتبه همکاروژلي دي .
معین شابیتاچي په ډاگه ئي داسرائیلو او فلسطینیانو ترمنځ دموافقي ملاتړکاوه په ناڅاپي ډول ووژل شو.
تراوسه پوري هیڅ ډلي دهغي دوژلو مسئولیت په غاړه ندي اخستي مگردفلسطین دخپلواکي دموسسي لوئي ډلي الفتحي دهغه دوژل کیدوملامتي دابوندال په ډله چي ددغي موافقي مخالفه ده اچولي ده .

یهودان تندروموافقت رابین ،عرفات راردکردند

بیت المقدس – ۲۸ عقرب :
وزیرعدلیه اسرائیل اعلان داشته تمام آنعده افرادیکه از قانون خلاف ورزي نموده وتظاهرات خشونت باررابراه اندازند دولت باایشان باقاطعیت معامله میکند .
خبرمي افزاید: یهودان، تندرو چندبن مرتبه علیه پیمان رابین، عرفات تظاهرات خشونت باري را براه انداخته و پیمان رابین ، عرفات رامردود شمرده اند .

دفاتحي اعلان

برکت الله «کمین» اوانصارالله مجددي وررونه ، صبغة الله مجددي (شیرآغا) خاوند، غلام دستگیرمجددي اوقاري گل حضرت مجددي دتره زامن ، دمطیع الله مجددي هدایت الله ، احسان الله اوسمیع الله دموردمړیني له امله چي جنازه پخواپه سره رودکي خاوروته سپارل شوي، دوستانوته خبرورکوي، چي دنارینه ووفاتحه دشبقدرډیري دخیرآباد «میراني» په جامع جومات کي نن (یکشنبه) دعقرب ۳۰ دسهارله ۹ تر۱۲بجوپوري اخیستل کیږي .

اعلان

ELP براي دوره جدیدبه صنوف beg الي ادوانس دوم شاگردمي پذیرد .
ثبت نام ازتاریخ ۱۵ نوامبرالي ۲۰ نوامبرجریان دارد .
آدرس : یونیورستي تاون – سیدجمال الدین افغاني رود تعمیر D – ۴۳ کورس انگلیسي ELP

خبرتیا

قدرمنوزده کونکوته خبرورکول کیږي چي دحضرت عثمان (رض) دلیسي دتکړه اونومیالیواستادانولخوا دکانکوردآمادگي کورس پرمخ بیول کیږي اوهمدارنگه پدي لیسه کي دعربي اوانگلیس ژبو،درسونه هم دتیکواندواوکانفوتواکلبونه پیل کیږي مینه وال کولاي شي چي دثبت نام لپاره دنومبرتر۲۹ نیټي پوري دلیسي اداري ته تشریف راوړي اودرسونه ددسمبرپه لومړي نیټه پیل کیږي .
آدرس: یوره–گل آبادکالوني ضیاء المدارس ته مخامخ ۱–۲

داسلام روغتیا

دلمانځه
داداکولوپه وخت کي پواخې دبدن په پاکي زورنه نه ده راوړل شوي بلکي دجامواو دعبادت دځاي پاکوالي هم شرط دي :(اي بنیادمو! دهرعبادت په وخت کي په خپله ښکلاسنگاروواوسي) (الاعراف – ۳۱ آیه)
دیومسلمان لپاره نه یواځې داچي دځان اوجامو پاکوالي ضروري دي بلکي خپل ماحول به هم پاك ساتي .
یو فرانسوي تاریخ لیکونکي داسلامي تعلیماتو په باب خپل نظرداسي څرگندوي :(داسلام تعلیمات په یووخت دیني هم دي اوصحي هم) .
دقرآن دصحي نظام دڅوڅونوله وراندي کولو نه وروسته که درسول الله (ص) طبي ښوونو اوصحي تعلیماتوته په لنډه توگه کتنه وکړو نوڅرگنده به شي چي دصحت په باب نبوي لارښودني په حقیقت کي دقرآن داجمال بیان دي . نوربیا

اعلان

دمعهد شرعي اداره ټولو هغه شاگردانوته چي په نوموړي معهدکي دشاملیدواراده لري په خوشحالي سره اعلان کوي چي دمعهدداداري نه دشاملیدوفورمي ترلاسه کړي، اوپایدلاندي شرطونه په نظرکي ونیسي :
۱– ددولسم ټولگي فارغ اوشهادتنامه ئي ولري.
۲– دشاگردعمربايد د۱۸ کالوڅخه کم اود۲۲ کالوڅخه زیات نه وي.
۳– دمربوطه جهادي تنظیم تزکیه ولري.
٤– دمربوط تنظیم کارت اودري قطعي اوسني عکسونه .
دپورتنیو شرطونو سره باید شاگردان دثبت نام لپاره دشنبي دورځي چي د۶ر۱۱ر۱۹۹۳ م تاریخ سره سمون خوري تر۳۰ر۱۱ر۱۹۹۳ م پوري دمعهدداداري ته مراجعه وکړي .
پته : المعهدالشرعي العالي للمعلمین – آبدره روډ – رحمان بابا روډ – پشاور– پاکستان « دمعهد اداره »

فرمان الهي

پس قسم به پروردگار تو که ایشان مسلمان نباشند تاآنکه حاکم کنند ترادر اختلافي که واقع شد میان آنها ، باز نیابند دردل خویش تنگي از آنچه حکم فرمودي، وقبول کنند به انقیاد .
(النساء ٦٥)

ارشادنبوي

حضرت کعب (رض) ازپیامبر (ص) روایت میکند که ایشان فرمودند یقیناً هرامتي رافتنه ي است وفتنهٔ امت من مال است (که به آن امتحان خواهد شد).

دسرمقالې پاتي برخه

کړي . څکه دسروبي دیباري په باب دمجاهدینواعلامیوثابته کړه، چي هیڅ مسلمان دبل مسلمان قتل اولوټ روانه گڼي ، اوچي څوك دداسي ډله ایزووژنواو ورانیومرتکبین دي، هغه به دپخواغوندي گمراه اومردودکمونستان وي. که څه هم دایتلاف لویدیځ مدافعین داجنگ دایتلاف لپاره ستراتیژیك هدف گڼي، ترڅوکابل ته دپیښوردلاري بشپړ کنټرول لاس ته راوړي، خوحقه داده ،چي هغوي هم شرمیږي، اوله دي بوي خبري پرته نورخه تبلیغ ته زړه نه ښه کوي. عجیبه داده ،چي هغوي هم وشرمیدل، خوایتلاف بنسټ ایښودونکي نه . که دایتلاف په ځواکونو کي څه متره وي ، خوهغه دي دحزب اسلامي له مجاهدینوسره په سپین میدان معلومه کړي، دسروبي بي گناه ولس ورته څه ضررروسولي دي، خوکه په مجموع کي ایتلاف اودرباني اومسعود چلندته فکروشي، اوهغه په ملي اوبین المللي ډگروڅیړل شي. څرگندیږي ، چي یوه داسي سازش ته یي لاس اچولي، چي نن دکمونیزم له ماتي اوسقوط وروسته په مستقیم ډول دامریکایي ښکیلاك له خواکنټرولیږي . اوهغه په گردي نړي کي دبنیادپالني په نامه دمسلمانانوټکول دي. که هرڅومسعود اودولتي ایتلاف ته اسلام مطرح تدي، اوبخپلوبهرنیومربیانو اوپلویانو ویاړي، خوبایدافغانستان مجاهدولس له هغواسلامي احساساتو نه خبرشي، چي هرډول جارحیت ته یي له شرمه ډکه ماتي ورکړیده . پدي ملت چي څوك دحکومت کولو خیال لري ، هغه باید دهمدي ملت نمایندگان اوددوي داسلامي جذباتوترجمانان اوسي. درباني وروستني سفرونو ته چي وکتل شي، په څرگنده معلومیږي، چي هیڅ اسلامي بنسټ نه لري. دمصرله نامبارك سره دهغه اوامریکا دخوشالولولپاره دهغومجاهدوعربانوپرسرچي څوارلس کاله یي داسلامي اخوت اوهمدردي په جذبه په افغانستان کي جهادکړي، دژندانې کیدلواودعربوارتجاعي حکومتونوته په لاس پلاس ورکولو سازش کوي. خوپه داخل کي یي جلبقوکمونیستانودکلاوجوماتونویباري ته ملاتړلي، اوپدي ډول داخلي تشدداوبهرني په سازش ولاړدیپلوماتیك تجارت سره څنگ پرڅنگ پرمخ بیایي. خوافغان ولس ددغي ټولو غداریوتش تماشاچي ندي، اوموږدسروبي دخلکوپه فریاداوغوغاکي اوهمدارازدنظردخاوندانو په فتواوکي ولیدل، چي رباني اومسعود تش یومټ اوبیرك اونورکمونیستان یي ددولتي ایتلاف معني اومفاهیم وگڼل، اومجاهدملت ته یي خبرداري ورکړ، چي جهادلاسرته ندي رسیدلي، اوترڅو چي کمونستان له دولت نه ونه شړل شي، ترهغي پوري به جهاجاري وي. پرسروبي دایتلاف وحشیانه بمباري که هرڅومره زیان ورساو، خویوه گټه یي داشوه ،چي مجاهدملت نیغ په تیغه دکمونیستانو دپنځلس کلن جنایت اونه بخښونکي جرم په وړاندي لاحساس شوچي تراوسه پوري پري کمونیستان پښیمانه نه ، بلکي دبیا پلي کولو تکل یي لري ،چي سروبي یي ښه مثال دي. اوکه داسي نه وي، نو پرسروبي باندي دخوشه یي بمونوداستعمال څه منطق اوڅه جوازدي؟ خوشه یي بمونه خوپرسنگرونواوټانکونونه بلکي په ښارونواوولسونواستعمالیږي ،اوچي دسروبي پرولس داخونړي پیښه وزغمل شوه، نوڅرگنده ده ،چي دایوقصدي اوارادي عمل ؤ. اوداځکه دایتلاف منسوبین ددي توان نه لري، چي دمجاهدملت دتریخ عکس العمل په وړاندي دسروبي له شهیدپال ولس نه بخښنه وغواړي، اوهغه دچاخبره لوښه پول کړي اوپري تیرشي . څواوس خبره له خبري تیره ښکاري. بهرنیوهیوادونوته هم جوته شوي ، چي رباني اوایتلاف یوغیرقانوني ټولگه ده ، چي په هیڅ ډول یي افغانان زغملي نشي . اونه دزي دهیوادوالوترمنځ پخپل ځان کوم اعتبارلري . ځکه دحزب اسلامي امیراودهیواد صدراعظم دمجاهدملت دگټوپه خاطراستعفي ته چمتواواعلان یي کړي، چي که رباني لمئتعفي اوانتخابات تضمین شي، دي به له صدارت نه ځان گوښه کړي، خوپدي مقابل کي درباني وباند رباني دوحدت سمبول اودحل وعقدشوري منتخب یي گڼي، چي مجاهدملت مردوده شمیرلي وه . نواوس باید داقضاوت مجاهدملت ته پریږدو، چي له کومي لاري لازم گڼي، خپل ځان یوځل بیا دکمونستانو له فتني نه دتل لپاره وژغوري .
دسروبي او تگاب دوږیندي په اروند به دافغانستان مظلومو پرگنودسولي دهیئت دیوه مشرمولناذاکري څرگندوني پخپلو غوږونواوریدلي وي،چي دحزب اسلامي امیردمنځگرتوب له پلان سره موافق اومسعود په ډیرفرعونیت سره داوړاندیزردکړ . زموږ په فکر واقعیتونه ډیرروښانه اودتل لپاره نه څوك ځان غولولي شي اونه مجاهدملت . څوك جنگ غواړي اوڅوك سوله . مسعود دکمونستانو په مرسته دجنگ مرتکب دي، اودادهماغي لړي یوه کړي ښکاري ، چي په مصر،الجزایر اوگردي اسلامي نړي کي دیهودپالي امریکاله خواپه یون ده . نوداسلامي امت دیوه نه بیلیدونکي غړي په توگه چي افغانانو ته څه پکاردي، هغه ددوست اودښمن تشخیص اودخپل اسلامي برخلیك درغون لپاره دجهادتداوم دي، اوبس .

بطروس غالي په

لگیاولي په بیره همکاري وکړي چي بشري مرستي احتیاجوکسانوته ورسیږي .

شهادت
بیانگرعقایدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظرهیئت تحریر
پست بکس : ۱۰۳۶ یونیورستي تاون پشاور
آدرس : جلال آباد چکتوري
حساب بانکي: ۸۵۲٦٤ دافغانستان بانك
تلیفون : ۲۹۲٦